مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

شاه‌ولي ارين

۲۰۲۶/۰۱/۱۴

# نړۍ د انارشیزم او زورواکۍ په لور

## (دویمه‌برخه)

د شوروي تر پاشلو وروسته دوه قطبي نړۍ خپل توازن له لاسه ورکړ، امریکا د یو سوپرپاور طاقت په توګه په خپل سریوو لاس پورې کړ. د تاریخ په بیلا بیلو مرحلو کې امریکا پر مکسیکو،ُفلیپین، هیروشیما، کوریا ویتنام عراق، سوریې او لیبیا د ټولو نړیوالو قوانینو په نه نظر کې نیولو سره بې رحمانه تجاوزونه تر سره کړل، د دغو هېوادو پر ولسونو یې بې رحمانه تعزیرات وضع کړل او د دوی ملي شتمنۍ یې چور او چپاول کړې.

د پورتنیو معلوماتو په نظر کې نیولو سره امریکا د یو نړیوال استعمارګر او تروریستي سیاستونو له امله د ټولو تیر شوو تروریستي ولسمشرانو چې د نړۍ په کچه تروریستان تېر شوي او دا دی اوس یې ترامپ بنه مثال دی د یادونې وړ بولم.

### تروریزم په نړیوالو قوانینو کې داسې تعریفېږي:

«د ملکي وګړو په وړاندې د وېرې رامنځته کولو له پاره منظم تاوتریخوالی.»

امریکا ځان د دولت په توګه د تروریزم ضد ځواک بولي، خو ډېر ملتونه، څېړونکي او مدني فعالان استدلال کوي چې د امریکا ځینې پوځي مداخلې، بمبارۍ او بندیزونه د عملي پایلو له مخې د دولتي تروریزم بڼه لري، ځکه ملکي وګړي په کې وژل شوي، هېوادونه ویجاړ شوي، سیاسي نظامونه په کې په زور او جبر بدل شوي دي.

### د امریکا له پیل څخه تر نن پورې مهمې پوځي مداخلې او عام وژنې:

په ۱۹ مه پېړۍ کې له (۱۸۴۸-۱۸۴۶) پورې د امریکا مکسیکو جګړه چې امریکا د مکسیکو شاو خوا ۵۰ سلنه خاوره ونیوله لسګونه زره کسان په کې ووژل شول.

په شلمه پېړۍ کې له (۱۹۰۲-۱۸۹۹) پورې د فلیپین پر ضد د امریکا استعماري ضد جګړه چې له (۲۰۰۰۰۰)نه تر(۱۰۰۰۰۰۰) پورې ملکي وګړي په کې ووژل شول.

په ۱۹۴۵ کال امریکا د جاپان په هیروشیما او ناګاساکي اټومي بمونه و اورول چې په نتیجه کې شاوخوا (۲۰۰۰۰۰) انسانان ووژل شول او خورا زیات نور معلول او معیوب شول.

له (۱۹۵۳-۱۹۵۰) پورې امریکا د جنوبي کوریا ملاتړ وکړ چې شاوخوا (۳۰۰۰۰۰۰) کسان مړه شول، چې ډېر یې ملکي وګړي وو.

له (۱۹۷۵-۱۹۵۵) پورې د ویتنام تر ټولو خونړۍ جګړه کې تر(۳۰۰۰۰۰۰) پورې ویتنامیان په بې رحمانه توګه ووژل شول.

د لاتیني امریکا چیلي، نیکارګوا، السلوادور، ګواتیمالا د کودتاوو په ملاتړ کې سلګونه زره کسان وژل شوي او یا ترې تم شوي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۲۱ مه پیړۍ کې پر امریکا باندې د سپتمبر د ۱۱مې نیټې د برید په پلمه امریکا او ناټو پر افغانستان برید وکړ، چې له (۲۰۰۱ـ۲۰۲۱) پورې شاوخوا له(۵۷۰۰۰۰ـ۸۴۰۰۰۰) کسان ووژل شول، هېواد وران ویجاړ او میلیونونه هیوادوال کډوالۍ ته اړ شوول.

پر (۲۰۰۳) عیسوی کال امریکا پر عراق د اتومي وسلو د لرلو او موجودیت په پلمه، چې په حقیقت کې دغه ادعا هم دروغ ثابته شوه پر عراق حمله وکړه د هغه هېواد جمهور رئیس صدام حسین یې په دار وزړاوه او له ( ۵۰۰۰۰۰ـ۱۰۰۰۰۰۰) زیات بې ګناه انسانان د دغې جګړې قربانیان شوول.

همدا ډول پر لیبیا، سوریې د امریکا او ناټو بمباریو په زرګونو انسانان ووژل او دغه هېوادونه یې د کورنیو جګړو ډګرونه وګرزول چې تر دا اوسه دوام لري. په دغه هېوادونو کې مستقیم او غیرمستقیم پوځي حضور زرګونه ملکي تلفات ولسونو ته راواړول ، دغو پوځي مداخلو دولتونه سقوط کړل، کورنۍ جګړو شدت وموند ، ترهګرې ډلې لکه داعش یې رامنځته کړل، اقتصادي ویجاړې او میلیونونه یې کډوالۍ ته اړویستل.نو ځکه همدا لامل دی چې ډېری خلک امریکا د جګړې صادرونکی هېواد بولي.

د امریکا د استعماري سیاستونو او مستقیم ملاتړ په نتیجه کې د اسرئیلو د زور زیاتي له امله د فلسطین د مظلوم ولس حقونه تر پښو لاندې شول په میلیونونو انسانان د امریکا او اسرائیلو د دغو استعماري او بشري ضد غوښتنو قربانیان دي چې د غزې ناورین یې روښانه بیلګه ښودلای شو.

په پورتنیو هېوادونو کې د امریکا استعماري تېریو او ناخوالو ته په کتو سره دا جوتوي، چې د امریکا هېواد چې ځان تر ټولو نورو هېوادو د دموکراسۍ او بشري حقونو ملاتړي ګڼي، مګر په حقیقت کې یوازینی هېواد همدا دی چې ټول نړیوال اصول، قوانین او میثاقونه یې تر پښولاندې کړي او نړۍ یې له ستر ګواښ او بحران سره مخ کړې ده.
رښتیا هم چې د امریکا په ځان غوښتونکو او استعماري پالیسیو کې نه بشردوستي شته نه سوله او دموکراسي، یوازې او یوازې اقتصادي ګټې او ستراتیژیکي موخې دي چې امریکا ترې په نړۍ کې د زور او طاقت له مخې په ډېره سپین سترګۍ ګټې تر لاسه کوي.

امریکا د همدغو موخو د لاسته راوړلو له پاره ترووریزم، مخدره توکې او نور منفي تورونه د یوې بهانې په توګه پر ونزویلا د هغوي د تیلو او نورو طبعي منابعو د تر لاسه کولو او د خپل کنترول لاندې د راوستلو په خاطر پر دغه هېواد نظامي تیری وکړ، چې په راتلونکی برخه کې به پرې بحث وشي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ